ليکونکی :ريچارد اولف (Richard Wolff).
منبع اودخپريدو نيټه : انفارميشن کليرنګ هوز«18-07-2018».
ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل» .

-----------------------------------------------------------

# د پا نګوالي اودنژادپرستی شراکت

## The Capitalism and Racism Partnership

پا نګوالی کوم چي د محتا جو خلکو ته د دندي اود عا يد د په تر لاسه کولو
چمتوالي کی پا تی راغلي نو په ريا کا رانه اودوه مخی بنی سره هغه يعنی
پانګوالي خپل مخ د خلکو له نظره د توکمپا لنی اود ملت پا لنی د توری
کرغيړن پردی یا ما سک ترشا پټوی

Revulsion is building towards the smokescreens of hypocrisy, racism, and nationalism barely masking capitalism's ongoing failure to provid the jobs and incomes people need

**د ويليم اد وارد بورګ ها ردت دوبيوس** (W.E.B.DuBois) د( 150) کا ل د زيږ يد و په درشل کی که ديو لنز(عد سه) په واسطه دهغه ارزښتناک ليکنی او آثارو باندی کوم چی هغه د ا مريکی د متحده ايالاتو د پانګوالی او د نژاد پرستی تر مينځ د ټينګ اړيکی اودګډون والی په اړه پوره ارزونی کړی دی نظر واچول شی نو د هغه د ارزونی حقيقت دامريکی په پانګوالی هيواد کی په رڼو سترګو سره ليدل کيږی لکه هغسی کوم چی هغه پخپل يو «مشهور او معروف ليکنه » کی داسی يادونه کړی دي : **پا نګوالی نشی کولای چي خپل ځا ن اصلاح کړی بلکه هغه دخپل ځان دمحکومولو اودتخريبولو دپاره يولړ کارونه ترسره کړی يعنی چی خپل ځان يی ويجا ړ کړی دی** هغه همدارنګه دا سی زيا ته کړی چی د ا مريکی په متحده ايالاتو کی پردی روند با ندی سيا لی اويا مسا بقه ممکن اصلی اويا کليدی مسله اووسی . نوپه همدی ترتيب سره هغه کولای شو چی د خپل ژوند داخرينی ورځو د يادونو په اوږد و کی يو څه زيا ت ووايی. کوم چی **دونالد ترومپ** داسی وړاند يز وکړ چی د ملی فوټبا ل د ليګ د لوبغا ړو مسا لمت آميز اعتراضونه د توريوستو د پوليس وژنه په هيواد پوری څه تعلق نه لری» .

د افراطی پا نګوالي اجندا يا دستورالعمل اوس د سرمايه داری يومنل شوی او مسلم حق شميرل شوی دی او هغه داچي خصوصی پانګوالان خپل اهدافو ته درسيد لود پا ره

هغوی هڅوی چې سرما یه لا پسي خصوصی کړی اود هغی په وړاندي هر ډول محد ود یټونه او خنډ ونه له مینځه ویسی- د شرکتونو اود بډ ایا نو لپا ره مالیات را ټیټ کړی ، دهغو شرکتونو او شرکتوالو د پا ره سبسا یډی شرایط رابرابر کړی یعنی هغه ډول ښه شرایط چې مخکی هیځ موجود نه وه .دیادونی وړمطلب داچی یوډول سردرګمه اونه په زړه پوری دسرمایه داری سرمشریزه کوم چې دیولړمحدود یټونوسره د( 1992 ) او( 2008) کلنو په موده کی د یولړرغنده نا ورین سره مخا مخ شوی وه اوس له هغه څخه سترګي پټوی اوله پامه غورځوی چی دا پخپله له حقیقت څخه سترګی پټول دي .

د سرما یه داری د بشپړ منطقی سمبولی چټک ناری سوری او ډنډوری د **دونالد ترومپ** پواسطه سره مشخص او ځا نګړی شوی دي. په هرصورت هغه څه چی ممکن د پانګوالی په اړین به راوروسته را پیښ شی هغه دادي چی دهر څه نه مخکی دلته اوس دهری جدی اوسازمان ورکړل شوی مخا لفت دنه موجودیت مسله اوموضوع دی لکه هغسی کوم چی دپانګوالی دلوی بحران په اوږدو کی د صنعتی دنوی اتحادیو د تعهد او ددوه سیوسالیست او یو کمونیست احزابو په بریالی ایتلاف سره د سرما یداری پرضد خپل مخا لفت ور وښودل اودپانګوالی پرمختګ یی یو څه ډ پ کړ- اما وروسته د کال (1945 )څخه جمهوریخوا هانو پردغه صنعتی اتحادیو باندی یرغل وکړل اما دموکراتا نو ددی صنعتی ا تحا د یو د له قطعی له مینځه وړلو په مقابل کی دهغه دبیا له سره درغونی د پاره یو لړهلی او ځلی ترسره کړل کوم چی دغه امر ددی موجب شو چي پانګوالی له سره مسقر اوبیرته راوګرځی اود یوبحران سره مخا مخ شی – نوکله چی دغه بحران د ( 2008)او( 2009) کلونو ترمینځ رامینځته شو په دی وخت کی د چپ اړخ د جدی مخا لفت دنه موجودیت له کبله دکوم نوی خنډ سره مخا مخ نشواوس مونږ دکال ( 2008) څخه وروسته یواځی ما لی مرستی چی تر لاسه کوو دا مرستی ( د FDR « Franklin Delano Roosvelt »چی په کال( 1930) کی کید ل دهغه په پر تله) زیات دی – د سرمایه دا ری تاریخ ته نه پا ملرنه یا دهغه د تاریخ هیرول د د موکرت ګوند مرکزی رهبری دی ته اړ ا یستلی چی د سرمایه داری د برخه لیک په اړین د **دونالد ترومپ** د مړنی په انتظار کی شپی اوورځی تیر کړی ترڅو چي وکړی شی د **کلنتون** میراث بیا له سره ترلاسه کړی اوپا نګوالی بیا یوه بله بحران سره مخا مخ کړی .په داسي حا ل کي چي اوس د ا مریکي په متحده ایالاتو کی کوم داسی پراخ پرملی پا یو اویا ستنو با ندی ولاړ اپوزیسون یا مخا لف ډلی نشته چي دد ولت په نا سم کړنو با ندی نیوکی وکړی خو اما له بله پلوه دهڅی اود اند ځنی ښیا نی د اپوزیسون د رامینځته کید وپه اړین ترسترګو کیږی لکه دبیلګی په ښه د ښونځیو ځنی ښونکی داتحادی دراجوړولو څخه ملا تړ وکړل اوبیاځنی نور داتحادی د رامینځته کیدو سره خپل توافق ښکاره نکړل اما دغه ښونکي دامریکی د ښونی د وزیری اغلي **ګروتیسکو دیبوس** (grotesque Devos) تر مشری

لاندی د معارف د کلنی بودجی د را ټیټید و په مقا بل کی خپل شد ید او فعال غبرګون وښودل نو دویرجینیا په غرب کی دښونکو دفعال ونډی اخیستو اود هغو بریالیتوبونه په ډاګه کړل چې څه شی کولای شی یو سازمان ورکړل شوی جدی مبارزی سره مرسته وکړی اود خنډ ونو په لیری کولو کی بریا لیتوبونه تر لاسه کړل شي . همد ارنګه له پارک لاند (Parkland) ،فلوریدا څخه د لوړو تعلیمی ښونځیو زده کونکودیو سازمان ورکړل شوی اپوزیسیون دتظاهراتو په ترڅ کی خپل کرکه اومخا لفت د ټوپک دلابیګا نو یا دلالانو په مقا بل کی ور وښودل او هغوی دمسخره ګانو اود چاپلو سانو په بنه ورتل دکارګزارانو په مرسته سره دغه پراخ دودی په حال سازمان ورکړل شوی نهادونه دیو دموکراتیک سازمان په بڼه دپانګوالی دغیرد موکراتیک سا زما ن دځای ناستی په توګه رامینځته کیږی .

دلته یو ډیر زیا ت شمیر مثا لونه وجود لری اما هغه څه چې ډ یر اهمیت لری هغه دادی : ټولنیز بد لون د شرایطو په نظر کی نیولو سره په ډ یر جدی بڼی یو مخا لف سازما نی نها د شتون ته ضرورت لری نو هر هغه اجتماعی بدلون چی دهغه رامینځته کیدل ضرور وګڼل شی نو په هغه صورت کی د وضعی د بد لون د پا ره د بد لون غوښتونکو فعا ل ونډه اخیستنه هم ډیر مهم او لازم ګڼل کیږی چی د بد لون پلویا ن په همدغه مخا لف سازما ن کی عضویت ولری یو ځانګړی سیاستمدار ته ماتی ورکول یا دهغه له مینځه وړل نسبت د یو سیا سی ګوند د مینځه وړلو دپاره دلږو پلویانو سازمان ورکول ته ضرورت لیدل کیږی چی دا پخپل وار سره دیو ښه اومتفاوت اقتصاد په لور یو څه کم ګذار یا انتقا لی صفحی ته ضرورت لری .

**دوبیوس** (DuBois) وپوهید ل چی پا نګوالی په غیراګاها نه بڼي سره د خپل ځان دویجا ړولواو دتخریبولو د پاره ددی په خا طرچی دغه سیستم خوندی او محفوظ وسا تی خپل نها یی او اخری هڅی او اند ترسره کوي لکه چی مونږ اوس هغه څه چی **دبیوس** ویلی وه دسر په سترګو ګورو چی **دونالد ترومپ** د یو ډول جدی غیر قانونی فرامینو په وضع کولو سره دبډایانو اودامریکی دغټو سرمایه دارانو په پلوی دمالیاتو کچه را ټیټ کړی چی د هغه په نتیجه کی د امریکی په اقتصاد کی یولړاقتصادی حبا بونه (پوقاني) را مینځته کړی کوم چی د خلکو دعا ید ا تو په کچه کی اوس هم لوړ او حیرانونکی تفاوتونه ترسترګو کیږی اولیری نه دی چی دا پخپله زمینه دی ته چمتو نکړی چي خلک ددی خنډ ونو د مینځه وړلو د پاره پراخي اجتماعی او صنفی اتحا د یی جوړ نکړی لکه چي ا وس په امریکی کی دهمدی ډول اتحا د یو د جوړولو نښی اونښا نی لیدل کیږی .

همدارنګه پا نګوالانو زیار باسی چی دپانګوالی سییستم دخلکو دنیوکو څخه په یو اویا بل ډول سره خوندی کړی اویا دخلکو نظر ځنی نوی جعلی پیښو ته منحرف کړی لکه امریکی ته دغیر سپین پوستو مهاجرو په راتګ باندی بندیزونه لګول اود پانګوالی

مخ د دوه مخی ریکارانه سیاست د نژاد پرستی اود ملیګرایی په ماسک سره له دی نه چی دغه سیستم د خلکو ته د دندی اود عا ید دترلاسه کولو کی پاتی راغلی دی وپوښوی.

**دوبیوس** (DuBois) خپل سیا سی هلی ځلی افریقایان او امریکایانو ته دسرمایه داری پر ضد د بیا له سره کتنی اوسوسیا لیستا نو ته د ضد نژاد پرستی مسلی منل تقسیم کړ دهغه په باور هیڅ یو پروګرام په متحده ایالاتو کی دسوسیالیزم در امینځته کیدودپاره تر هغه وختله چی افریقای تبار امریکایی امریکایان بیکار اوپه د ند و نه ګما رل شی ممکن نه دی اوهمدارنګه هیڅ یو پروګرام په امریکا کی دنژاد پرستی دلغو اویا دمینځه وړلو دپاره به تر سترګو نشی .

نژاد پرستی دامریکی د تا سیس له وخته دهغه هیواد په اقتصاد ، سیاست اوفرهنګ کی خپل ژور ریشی ځغلولی دی او دا سیا ست د سرما یه داری د تنظمو لو او دودی دپاره په عمدی بڼی سره پکا ر وړل شوی دی یعنی چی دسرمایه داری اودنژاد پرستی ګډونوالی اومشارکت یوه ساختاری اصل او موضوع دی - نو دبیلګی په بڼه دامریکی پا نګوالی کولای شی له نژاد پرستی څخه دستونزو دحل دپاره له دوه ډیر بد او ناوړی ځانګړتیا څخه استفاده وکړی : **بی ثبا تی** او **نا برابری**- تجا ری سیکل او یا څرخی چی تر اوسه پوری پا نګوالی تر خپل تا ثیر لاندی اچولی دی کارګره طبقه په متنا وب بڼی سره تر ګواښ لاندی راولی .

بیکا ری ، بی وزلی او داسی نور لکه د تلپا تی ګواښ په څیر او همد ارنګه پخپله اقتصادی رکود یا د بحران پحا ل د رامینځته کیدو سره د پانګوالی د سیستم پر ضد د کارګری طبقی د راپارونی سبب کیږی دبلی خوا څخه نژاد پرستی دبی ثبا تی خطرونه او لګښتونه دافریقای تبار امریکایی تولنی دپاره چی مخکی په کار استخدام شوی وه په ډیر آسا نی سره تش او تخلیه کړی او د سپین پوستو د تولنی یوه زیا ته برخه کولای شی چی دپا نګوالی له بی ثبا تی څخه پښی سپکی کړی اویا د پانګوالی د بی ثبا تی څخه لږ رنځ ویسی . نژاد پرستی په ګڼ شمیر استدلال سره امریکا یا نو، افریقا یی تبا ر امریکا یا ن د خپل بیکا ری او د بی وزلی د ملامتی پړی پرهغو باندی اچوی او هغوی دزیاتو سپین پوستو سره پرتله کوی نوپه دی بڼی سره نژاد پرستی او سرمایه داری پخیل واریو اوبل سره ځان تقویه کوی .

له هغه څه چی په سرمایه داری سیستم کی نابرابری او دژوند تفاوت په موازی بڼی سره د پرمختګ په حال کی دی نو دهمدی اصل په نظر کی نیولو سره د هری ورځ په تیریدو سره کارګره طبقه فقیر او بی وزلي کیږي ، نژاد پرستی ، افریقای تبار امریکایان دعاید اود ثروت دویش اود توزیع (دنژادپرستی له طریقه څه داستخدام ، مسکن، تحصیل عموی سیا ست او نظرغوښتنی په برخه کي ) په نظرکی نیولو سره په ډیر ټیټ سطحه کی قرارلری. اکثرسپین پوستی امریکایان دسرمایه داری دنابرابری اود ژوند دتفاوتونو په موجودیت سره سره دتهد ید اویا دګواښ لږ احسا س کوی ځکه چی ددی ناسا زګاری

زيات ونډه افريقا يي تبار امريکايي ټولنی ته ور په برخه کيږی يعنی دسرمايه داری دغه ناسازګاری افريقايی تبار امريکايان يولړ ستونزوسره په اول قدم کی مخا مخ کوی . کيدای شی چی سپين پوستو دسرمايه داری په ټولنه کی د بی وزلو د ژوند د خرابو شرايطو اود ناخوالی په پرتله يوڅا بت نما يشی حا لت ولری .

همدارنګه دضد سرمايه داری اودضد فاشيستی ترمينځ ټولنيز جنبشونه او عمومی خبری اتری کولای شی چی دنژادپرستی اود سرمايه داری تر مينځ متقا بل ځواکمنی اوله سره پيا وړی کيدل حل فصل کړی او له دی لاری څخه ټولنيز پرمختګ پلی شی اويا مخی ته لاړ شی. – نن ورځ په ډاګه سره وينو چه په پا نګوالی کی يو لړ ستر تنا قضا ت موجود دی چی په استوار او ثابت بڼی سره دانحلال په لوری روان دي نو ددی تغيراتو پر بنيا د د کارګرو په اجوره کی د اوږدي مودی څخه راهيسی رکود او د سود فنی بد لونونه ، سپين پوستی زيات ترتا ثير لاندی راولی يعنی پرهغوی با ندی زيا ت تا ثيراچوي کوم چی مخکی يوائی په عمده توګه سره په افريقايی تبار امريکايانو پوری محدود وه نو له دی جهته دکورنی دړی وړی کيد ل ، مخدره موادو ته وابستګی او داسی نور کوم چی پر افريقا يی تبا ر امريکا يا نو با ندی نا وړی اغيزی لرل اودهغو درنخ زمينه را چمتو کول اوس سپين پوستی هم له دغه ستونزی څخه رنځ ګا لی.

د سپين پوستو د ژوند بيا له سره پيا وړی کيد ل دهغه شرايطو د ټيټوالی د اضطراب اود خپګان دعلايمو ښکا رندو دی کوم چی نژاد پرستی اوپانګوالی سپين پوستو ته اجازه ورکړی وه چی له دی نا وړي شرايطو څخه پښی سپکی کړی اودبلی خوا څخه سپين پوستو د سرما يه داری په ټولو برخو اوپه سرتا سری نهادونو کی دافريقايی تبار امريکا يا نوپه ونډی ورکولو سره خپل شغلی موقيعت په رسمی بڼی سره پژيند لی وه نو دهمدی اصل په نظرکی نيولو سره د پا نګوالی موجوده بی سا ری پرمختګ د پاره هغوی يعنی پانګوالانو يولړ چټک فعاليتونه اوکړنی لکه ( په بيړه سره خصوصی سا زی برپانګوالو با ندی د ما ليا تورا ټيټول ، د با ندی يا صا دراتی دندی ته پراخوالی ورکول او دخپل خوښی سره کا ر مخ ته وړل اوداسی نور ) ترسره کړل- د لته محا فظه کاران (نه يوائی دونالد ترومپ ) دکا رګرانو دودی دزياتوالی د ډ ب کولو اود مخی نيولو په وړاندی دسپين پوستو دلا واکمنی د ودی او د پرورش د پاره د کارګر يا دتوليد کونکی طبقی دهمبستګی په مخا لفت سره نه ستړی کيد ونکی هلی ځلی په کا ر واچول شو. نود ديوس(DuBois) د نظر يی د مفهوم په پام کی نيولو سره (د سرما يه داری له نابودی او تخريب څخه) ممکن دی چی ننی قطبی سيا ستونه (ترومپ)، ا يدولوژی ګانی ، فرهنګ او ا قتصا د دهغی متعد د نښی او نښا نی اووسی .

**ددی مقالی دليکونکی په مورد کی يادونه** : ريچا رد اُلوف، استاد افتخا ری اقتصادی در دانشگاه ماساچوست، امهرست، جا يی که او از 1973 تا سال 2008 به اقتصاد آموخت. او در حال حاضر استاد بازديد در برنامه فارغ التحصيل در امور بين المللی پوهنتون نيويورک است. ريچارد

همچنین به طور منظم در انجمن برشت در منهتن درس می دهد. کتا بهای او عبارتند از: بحران سرمایه داری: مقالا تی درباره بحران اقتصا دی جها نی (2016) ؛ دموکراسی در محل کار: درمان برای سرمایه داری (2012)؛ اشغال اقتصاد: چا لش برانگیز سرمایه داری (2012)؛ تئوری های اقتصادی متضا د: نئوکلاسیک، کینزی و ما رکسی (2012)؛ و سرمایه داری بازدید از فن: بحران اقتصادی جهانی و آنچه در مورد آن باید انجام شود (2009). آرشیو کامل کار ریچارد، از جمله فیلم ها و پادکست ها، می تواند در سایت خود یافت شود. او را در توییتر دنبال کنید: profwolff

---------------------------- **د سلامونو په وړاندې کولو سره «۲۰۱۸-۰۷-۲۵»**